د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحریر
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۲۹ محرم ۱۴۴۱هـ | ۲۰۱۹-۰۹-۲۸م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۱

**اعلامیه**

# ډیموکراتیکې ټاکنې؛ افغانستان ژور سیاسي ناورین ته بیایي!

د جمهوري ریاست د ټاکنو اړوند ټول واقعیتونه، د دې څرګندوونکي دي چې اکثره خلکو په «ډیموکراتیکو ټاکنو» باندې خپل اعتماد او باور له لاسه ورکړی او ځینې کاندیدان په تکرار سره په دغه پروسه کې د پراخ فساد خبرداري ورکوي. همداراز ګڼ شمېر متنفذینو او سیاسي رهبرانو د سولې پروسه خپل کاري لومړیتوب اعلان کړی او طالبانو هم خبرداری ورکړی چې ټاکنې به ګډوډوي.

د ټاکنو په اړه د شته بې باورۍ له امله ویلی شو چې دا ډیموکراتیکه پروسه په افغانستان کې بشپړه ناکامه شوې ده. هغوی چې خلک د رایې ورکولو پروسې ته هڅوي، په واقعیت کې د خلکو د وینو په بیه شخصي، قومي او مالي ګټې تعقیبوي او یا هم له سخت ستړیتوب څخه د «بد او ډېر بد» ترمنځ ټاکلو ته اړ شوي دي، نه دا چې د کوم ډیموکراتیک باور او اعتماد پر بنسټ دا ډول ټاکنو ته مخه کوي.

د افغانستان د جمهوري ریاست ټاکنې د هغو سرو سکروټو ایرو ته ورته دي چې په خپل زړه کې ستر سیاسي ناورین روزي او ژر ده چې خلک به دغه ناورین په زړه او ځان سره احساس کړي. لکه څنګه یې چې د ۲۰۰۹، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ کلونو په ټاکنو کې تجربه کړل. له دې امله چې ډیموکراتیکې ټاکنې د افغانستان د مسلمان ولس له ارزښتونو سره مخالفې دي، هر ځل د لا ډېرو قومي او سمتي اختلافاتو او سیاسي بې ثباتۍ سبب کیږي، چې په پایله کې د خلکو رایه بې ارزښته پاتې وي او د ناورین د حل لپاره امریکا ته مراجعه کوي.

دا پلا ټاکنې هم ناورین ته تلونکې دي او وړ پایله به و نه لري. که وړونکی هم ولري، هغه به داسې کس وي چې د سولې د مذاکراتو په پروسه کې به د امریکا ګټې خپل کاري لومړیتوب ګڼي او د امریکا، طالبانو او افغانانو ترمنځ د سولې په صورت کې به له واکه د ګوښه کېدو او د واک د تقسیمېدو لپاره تیار وي. د پایلې په توګه هر نظام او حاکم چې د دغه معاملې او خطرناکې لوبې له زړه څخه بریالی راووځي، د افغانستان وضعیت به د پخوا په پرتله لا ډېر خراب کړي. همدا یې ځای دی چې له خلکو پوښتنه وشي: آیا ستاسو رایه په داسې سیستم کې کوم ارزښت درلودلی او یا به یې ولري؟

نو له ناکامو تکراري نسخو، پخوانیو ترخو تجربو او د ډیموکراسۍ د ناورین زیږوونکو حلالرو څخه ځانونه وساتئ او پر ځای یې د اسلام ژوند بښونکې نسخې ته رجوع وکړئ او د راشده خلافت د تاسیس لپاره د حزب التحریر د سیاسي او فکري مبارزې بلنې ته لبیک ووایئ.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**